# افغانستان آزاد ـــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

یونس نگاه
۱۵ مارچ ۲۰۲۳



**یونس نگاه**

# د خپلو امارتي سیالانو پر وړاندې د ملا هبت الله اداري جهاد

د طالبانو امارت د رهبری او اداري دوه پلازمېني لري. کابل د خپلو ادارو، اداري بنسټونو او تاريخي دود له امله د طالبانو په رژيم کې د اداري پلازمېني په توګه پاتې شوی دی. خو ملا هبت الله د ملا عمر د لارې په خپلولو سره په کندهار کې يوه بله پلازمېنه جوړه کړې چې هلته د امارت نظام (رعيتي خان، امير/پاچا) واکمن دی. په کابل کې شته نظام او بنسټونه چې سل کاله مخينه لري او په ځانګړې توګه په تېره يوه پېړۍ کې يې پراختيا موندلې، د حکومتولۍ لپاره جوړ شوي او هر هغه ځواک چې واک يې په لاس کې واخلي، که وغواړي او که نه، هغې لارې ته سيخېږي چې د معاصرې حکومتولۍ د شرايطو له مخې اداره کېږي. ان که د داسې يوې ښېديا ميشتې ډلې له خوا چې په غاړه کې د تسبيح يا تعويذونو اچول او يا څنګ ته د تف دانۍ او يا په جيب کې د نسوارو د قوطي لرل غوره ګڼي، هم ونيول شي، له وړاندې جوړ شوي دفترونه، جوړ شوي مېزونه، شته سيسټم او بيوروکراسي چې د حاکميت د تثبيت او د واک د ټينګښت لپاره يو شرط دی، د هغې پر مخ د دولت رنګ پاشي، خو کندهار داسې نه دی.

هلته امير له وړاندې ټاکلو شرايطو سره مخ نه دی او کولای شي له دولتي بيوروکراسۍ پرته داسې امارت جوړ کړي چې د قبيلوي يا مذهبي دودونو پر بنسټ له محکمې سره ورته والی ولري. هلته امير د خانانو د خان په توګه په يو اړخيزه توګه حکمونه او «فرمانونه» صادروي. د کابل او کندهار د اداري نظام تر منځ توپير د دغو دوو پلازمېنو د زورواکو تر منځ د اختلاف يو لامل دی. هغه اختلافات چې په دې وروستيو کې د پټولو له ډېرو هڅو او پر اطاعت له ټينګار سره سره، تر رسنيو رسېدلي، په کندهار کې د واک پر انحصار د سراج الدين حقاني اعتراض او په پټو سترګو د اطاعت پر وړاندې د ملا يعقوب دريځ يې دوه د پام وړ بېلګې دي، چې د طالبانو ځينو ټيټ پوړو چارواکو ته يې دا جرئت ورکړی چې خپل مخالفت په ښکاره توګه څرګند کړي. د بېلګې په توګه، په بلخ کې د طالبانو د څارنوالۍ رييس مولوي عبدالقادر مرادي د دغه ولايت په شولګرې ولسوالۍ کې په خپله وينا کې پر ملا هبت الله نيوکه وکړه او ويې

ويل، چې د طالبانو مشر به خدای ته د خلکو او خپلو تر لاس لاندې کسانو ځواب ورکوي. هغه ملا هبت الله ته په سخته ژبه د ته ضمير وکاراوه او حاضرينو ته يې وويل، چې له هېڅا نه وېرېږي.

د خپل امارت له اداري چارواکو سره د ملا هبت الله له چلنده څرګندېږي چې هغه ځان ته د يوه داسې لارښود يا مشر په سترګه نه ګوري چې د سياسي او مذهبي لويو کړښو په ټاکلو کې لاسوهنه وکړي، بلکې غواړي د عبدالرحمن خان په څېر مطلق‌العنان امير وي، چې د نظامي، استخباراتي، قضايي، اداري او مالي چارو او ان د استخدام د بهير پر جزياتو څارنه ولري. افغانستان د عبدالرحمن خان له وخته تر نن ورځې ډېر بدل شوی دی او په يوه فردي اوسپنيز سوک د هېواد اداره کول څه اسانه خبره نه ده، ان که دغه سوک له يوه پخواني مذهبي دود او د ترهګرو شبکو له ملاتړه برخمن هم وي. ملا هبت الله پر يوه بې سياله مطلق العنان د بدلېدو لپاره ډېرې ننګونې په مخکې لري. هغه د داسې شبکو د اتحاديې مشر دی، چې ډېرې ادعاوې لري او هره يوه يې په واک کې رښتينې ونډه غواړي او له خپل اميره يې تمه داده چې په خپل دفتر کې د حقوقي، مالي او اداري واکونو د بشپړ انحصار پر ځای، د طالبانو د امارت لپاره سمبوليک او معنوي رول ولوبوي او د طالبانو تر چتر لاندې د جهادي لوبغاړو او شبکو د يووالي زمينه برابره کړي. خو هبت الله تر اوسه د خپلو متحدانو او تر خپل امر لاندې د ځواکمنو شبکو تمه بابېزه ګڼلې ده.

په تېر يو نيم کال کې له وزيرانو، ولسوالانو، قاضيانو، نظامي قوماندانانو او د استخباراتو له رييسانو سره د ده د کتنو او چلند په تړاو خبرونه، فرمانونه او اعلاميې خپرې شوې دي، چې هغو ته په کتنې سره د ملا هبت الله د کار بڼه او د طالبانو په امارت کې د هغه رول ارزولای شو. يو له دغو سندونو، د وزاتونو او خپلواکو رياستونو د بشري سرچينو له رييسانو سره د هغه د غونډې د جزياتو راپور دی، چې د روان کال د مرغومي پر ۲۰مې نېټې شوې وه. د دې غونډې د جزياتو دولس مخيز راپور چې په ۸صبح کې خپور شوی، د نوموړي د سياسي، مذهبي او اداري ليدلورو په اړه ډېر معلومات وړاندې کوي. په دې مقاله کې د همدې سند او يو شمېر نورو خبرونو او راپورونو پر بنسټ د حکومتولی په چارو کې د ملا هبت الله د مديريت سبک او بڼه څېړو او ګورو چې د واک د وېش پر سر لانجو ملا هبت الله څه ډول له خپلو ځواکمنو متحدينو سره په جنجال کې اچولی دی.

### د امارت مشري په کندهار کې ده

د بشري سرچينو له رييسانو سره د ملا هبت الله غونډې ته له کتنې اصلي ټکی دا را اخيستلای شو، چې د طالبانو د مشر او د هغه د پلويانو هڅې د مالي، نظامي، استخباراتي، قانوني او استخدام د صلاحيتونو د انحصار لپاره دي. هغه د امارت د بېلابېلو کچو له چارواکو سره په تماس کې هېڅ ډول محدوديتونو او سلسله مراتبو ته ارزښت نه ورکوي او له رييس‌الوزرا نيولې د استخباراتو تر عمومي رييس، د بشري سرچينو تر رييس او نظامي څارنوال پورې ټول خپل دفتر ته پر مستقيم ځواب ويلو مکلف ګڼي.

ملا هبت الله له هماغه پيله کله چې د طالبانو مشر شو، د اداري نفوذ کارولو ته ملا تړلې وه. هغه ښايي د خپل نظامي نفوذ د نشتوالي او دغه راز له دې امله چې له اداري او جوماته مشرۍ ته رسېدلی و، نه د جګړې له ډګره، په سمبوليک مشر د ځان د بدلېدو د مخنيوي او د سراج الدين حقاني او ملايعقوب په څېر سيالانو د لوړو خيالانو د کنټرول لپاره چې نظامي شبکې لري او د اختر محمد منصور په وخت کې د ملا هبت الله په څېر د امير مرستيالان وو، څو تاکتيکونو ته مخه کړې ده.

لومړی: دا چې هغه د طالبانو قاضي او د مدرسې ملا پاتې شوی، د وينا کولو له وړتيا او خپل ملايي سواده د نفوذ د کارولو لپاره ګټه پورته کوي.

دویم: هغه د دین او شریعت تر شا ناست دی او پر دین او اقوالو او دغه راز ګنو هغو ملایانو په تکیې سره چې پلویان یې دي، د خپل نفوذ د پراخولو لپاره کار اخلي.

دریم: د امارت په لومړۍ دوره کې د دفتري کارونو د تجربې او دغه راز هغو اداري واکونو نه په ګټې اخیستنې چې د ملا منصور په وخت کې ورکړل شوي وو، هڅه کوي، د ادارو له بېلابېلو کچو سره په مستقیم تماس سره خپل واک وکاروي. د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۷ کال کې په رسنیو کې د ملا هبت الله د ګومارلو او د اداري نفوذ د کارولو خبرونه خپاره شول. هغه مهال هغه د ملا اختر محمد منصور له وژل کېدو وروسته (د ۲۰۱۶ کال د مي په ۲۱مه) د طالبانو مشري ته رسېدلی و. د ۲۰۱۷ کال په سپتمبر میاشت کې د فراه د ولایتي شورا رییسي جمیلي امیني رسنیو ته ویلي وو، چې ملا هبت الله دغه ولایت ته راغلی و او د طالبانو له ځایي چارواکو سره پر غونډو او د هغوی پر ګمارلو بوخت دی. ویل شوي، چې ملا هبت الله د پاکستاني استخباراتو په مرسته افغانستان ته راغلی و او لومړی هلمند او له هغه ځایه فراه ته د نویو والیانو، ولسوالانو او نظامي قومندانانو د ګمارلو په موخه تللی و. کله چې طالبانو ته واک تسلیم کړای شو، د ملا هبت الله ډېر څرک نه لګېده او د کابل د څوکیو د نیولو لپاره د ملا برادر، ملا یعقوب، سراج الدین حقاني او هغوی ته د ورته کسانو تر منځ د جوړجاړي خبرې کېدې. خو کله چې ورو ورو په رسنیو کې د ملا هبت الله د نوم اخیستل زیات شول، په هغه پورې ډېرې اړوند خبرونه له اداري چارواکو سره د هغه کتنو، د کسانو د ګمارلو او لیرې کولو او د ادارو او خلکو لپاره محدودوونکو فرمانونو ته ځانګړي وو. په خبرونو او اعلامیو کې مو لوستل چې هغه ان په ولایتي ګمارنو او چارو کې لاسوهنه کوي. د ۱۴۰۰ کال د لیندۍ په ۲۴مه نېټه د باختر خبري اژانس چې څو میاشتې مخکې د طالبانو تر ولکې لاندې راغلی و، خبر ورکړ چې ملا هبت الله تېره ورځ (د لیندۍ ۲۳مه) په قندهار کې د طالبانو د ادارو له رییسانو سره وکتل او هغوی ته یې ځینې لارښوونې وکړې. په هغې غونډه کې د طالبانو والي هم حضور درلود. له هماغه پیله یې د ملا حسن، وزیرانو او ان والیانو له لارې د ادارو رییسانو ته خپل حکمونه نه لېږل، بلکې رییسان یې دفتر ته احضارول او د کولو او نه کولو سپارښتنې یې ورته کولې. لکه څنګه چې تاسو د طالبانو د امارت د بشري سرچینو له رییسانو سره د کتنې په راپور کې لوستلی شئ (په ۸صبح کې خپور شوی)، د هغه د کولو او نه کولو سپارښتنې یوازې په دیني او شرعي مسایلو پورې محدودې نه دي، بلکې ان د استخدام په څېر مسایلو په جزئیاتو کې هم مداخله کوي. د ۲۰۲۱ کال د اګست ۲۵مه ، کندهار ته د هغه د راتګ لومړی خبر هم له اداري پیغام سره مل و. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته ویلي وو، چې ملا هبت الله کندهار ته رسېدلی او د طالبانو له جګپوړو غړو سره یې د نوي حکومت د جوړېدو په اړه خبرې اترې کړې دي. البته د «خبرو اترو» کلمې هغه وخت، کله چې د واک او امکاناتو د وېش لپاره د ځواکمنو طالبانو تر منځ د لانجې پیلامه وه، د ملا هبت الله په دریځ کې ابهام ته اشاره لرله. وروسته په خبرونو کې هغه د خبرو اترو په مقام کې نه، بلکې د قوماندې او لارښوونې په مقام کې و. د لویې جرګې په تالار کې د ملایانو له مشهورې غونډې او په هغې غونډه کې د ملا هبت الله له جهادي وینا وروسته د امیر اطاعت د پخوا په پرتله زیات شو. اطاعت، په بهر کې د دې ډلې د یووالي د وسیلې په توګه تعبیرېده او کله کله به یې مخالفینو د طالبانو په منځ کې د داسې دود د شتوالي له امله رخه کوله، چې څنګه له تناقضاتو او اختلافاتو ډکې ډلې په منځ کې د چوپتیا او اتحاد د ساتلو لپاره پر اطاعت تکیه کوي. خو په طالبانو کې د ننه پر اطاعت ټینګار د سرچینو او واکونو پر سر د لانجې او لاس او ګرېوان کېدو کیسه بیانوله. لکه څنګه چې مو ولیدل، ترینګلتیاوو د اطاعت پرده څیرې کړه او اختلافونه را برسېره هم شول.

د روان کال په پیل کې ملا هبت الله د امارت کابینه کندهار ته وبلله او له هغوی سره یې درې ورځې غونډه وکړه. د طالبانو د سرکال د وري میاشتې د ۴مې نېټې په اعلامیه کې ویل شوي چې ملا هبت الله «وزیرانو او چارواکو ته د

بېلابېلو ادارو او ځانګو د کارونو په تړاو... سپارښتني او لارښووني وکړي». په هغې غونډه کې يې هم د خپلې کابينې په سلسله مراتبو سترګې پټې کړې وې او وزيرانو او ملا حسن ته يې مستقيمې سپارښتني کړې وې. په ډيموکراتيکو نظامونو او حکومتونو کې چې قانون لري، د سلسله مراتبو په پام کې نيول د اړوندو چارواکو تخصص او دغه راز ورتيا ته د درناوي يو مهم اصل دی. د دې اصولو نه مراعتول او د ادارې له ټيټ کچو سره د حکومت د مشرانو مستقيم تماس د مسوولو چارواکو بې صلاحيته کول ګڼل کېږي. د طالبانو د اعلاميې له مخې ملا هبت الله د ملا حسن هر مرستيال ته په جلا جلا توګه ځانګړې لارښووني کړې وې. ښايي په دې يوه کال کې د ملا حسن چوپتيا او په فرمانونو او خبرونو کې د هغه د نوم نه اورېدل د دې ښکارندويي کوي چې هغه بې صلاحيته پاتې دی. هغه له ځان پورته ملا هبت الله لري چې د ادارو رييسانو ته په مستقيمه توګه امر کوي او لاندې يې سراج الدين حقاني، ملا برادر او ملا يعقوب دي چې هر يو يې د خپل نفوذ په ساحه کې امير او خليفه دی.
تر اوسه ملا هبت الله بريالی ښکاري. هغه د خپل ديني حيثيت له امتيازه او د امارت له طالباني دود نه د مطلق‌العنان امير او شرعي مرجع په توګه د خپل مقام د ساتلو لپاره ګټه پورته کړې ده. هغه طالبانو، د افغانستان خلکو او نړيوالو ته د دې پيغام د رسولو لپاره چې د امارت مشري په کندهار ده او د کابل اداره د فرمانونو پلي کوونکې ده، خپلې ټولې وسيلې کارولي دي. د هغه د پياوړو مټو او امارت د ننه سيالانو شکايت او اعتراض هم د نوموړي د برياليتوب ښکارندويي کوي.

## بشپړ امير او يوازينی ويناوال

که څه هم ملا هبت الله تر اوسه د پردې تر شا دی او د هغه د هويت په اړه شکونه شته، خو په دې يو نيم کال کې د طالبانو د ادارې له بېلابېلو کچو سره د هغه د اړيکو په اړه ډېر خبرونه خپاره شوي دي. په دغو خبرونو کې ملا هبت الله تل ګواښ او سپارښتنه کوي چې شريعت بشپړ دی، ديني عالمان (ملا او مولويان د هغه تر نفوذ لاندې) د شريعت ساتونکي او د خدای استازي دي او پخپله د واجب‌الاطاعت امير دی. هغه په ټولو ادارو کې د ملايانو شبکه پراخه کړه او د بشري سرچينو د رييسانو د احضارولو اصلي لامل يې په رياستونو کې د ملايانو په ګمارلو کې له پخوالي د ناخوښی څرګندول او د مولويانو د استخدام د بهير پر اسانه کولو ټينګار و. هغه که د خپلو تر لاس لاندې کسانو خبرې واورې هم، غوږ پرې نه ګروي او د ايتونو او احاديثو په لوستلو سره د شريعت پر بشپړتيا ټينګار کوي او خپلو جګړه‌ييزو کسانو ته د شريعت په مخې ته کولو سره وايي، چې اوامر ومنئ او له شريعت، يعني اميره اطاعت وکړئ.
د بشري سرچينو له رييسانو سره د هغه د دوه ورځنی غونډې (د روان کال د مرغومي د مياشتې په ۲۱-۲۱) په تفصيلي راپور کې د ملا هبت الله د دفتر اداري تشريفات هم منعکس شوي او هغه يې د پخوانيو پاچاهانو په څېر د دربار، مېلمستون، انتظار ځای او د تشريفاتو د مامورينو خاوند ښودلی دی، نه هغه څه چې طالبان يې تبليغوي او ادعا کوي چې مشران يې ساده او بې تشريفاتو ژوند لري. د دې غونډې د رسمي راپور له مخې، د ملا هبت الله دفتر په يوې متحدالماله خبرتيا کې د وزارتونو او خپلواکو ادارو د بشري سرچينو رييسان کندهار ته وربللي دي. په نوملړ کې د ملا حسن د دفتر او د چارو اداری مشران هم شامل دي. کله چې هغوی کندهار ته ورسېدل، يوه ورځ يې د خپل امير په مېلمستون کې د ملا هبت الله له حضور پرته خپل منځي ناسته وکړه، خو د غونډې له تشريفاتو سره اشنا شي او په عين وخت کې خپل وړانديزونه سره راټول کړي. بله ورځ د ملا هبت الله د مېلمستون په جومات کې سره راټول شوي او له امير سره د کتنې د اصولو په اړه يې د دربار د تشريفاتو د مسوولينو مشورې اورېدلي دي. له هغې وروسته ملا هبت الله ته بيول شوي او هلته ورته له روغبړ وروسته په ټوله غونډه کې څلور ځلي د وينا اجازه ورکړل شوې ده. يو

هغه مهال چي خپل ځانونه يې معرفي کړل، دويم کله چي د دوی استازي د قران کريم تلاوت کړی، دريم کله چي يې خپل بيعت تازه کړی او څلورم کله چي د غونډې په پای کې ملا هبت الله د ملايانو په ګمارلو کې په ناغيرې تورن کړی او پوښتنې يې ترې کړې دي. نور پاتې ټوله ورځ په دوو پړاوونو کې، يو د ماسپښين له لمانځه مخکې او بل له لمانځه وروسته، ملا هبت الله وينا کړې او سپارښتنې يې ورته کړې دي.

د غونډې د راپور اصلي متن د بشري سرچينو د رييسانو د اړتياوو او ستونزو د اورېدلو او د استخدام په اړه نه و. البته د غونډې په راپور کې ويل شوي چې په لومړۍ ورځ بلل شويو کسانو د شکايتونو او وړانديزونو يو اوږد نوملړ مطرح او توحيد کړی دی. خو په غونډه کې د هغو ټکو د بيانولو فرصت نه و او پر ځای يې خپل امير ته په ليکلي بڼه د هغه يوه کاپي ورکړې ده او راستانه شوي دي.

د ملا هبت الله د هغې ورځ د وينا اصلي ټکي په شلو فقرو کې بيان شوي دي. د هغه د وينا اصلي تمرکز د امير پر اطاعت، جهاد ته پر چمتووالي، د قربانۍ د زغرې پر اغوستو او په ټولو چارو کې له علماوو (د ملا هبت الله له استازو) سره د مشورې پر اړتيا و. په دې حالت کې، هغه يو ماهر کيسه ويونکی ښکاري. د راپور په ټولو شلو فقرو کې ملا هبت الله د خدای، پيغمبر، صحابه وو او نورو ديني مشرانو د خبرو راوی دی. په يوې سرسري کتنې سره مې د هغه د خبرو په راپور کې دوه ويشت روايتونه، اياتونه او د پخوانيو کسانو کيسې وشمېرلې. هبت الله ځان ظاهراً ځان د مشرانو پيغام راوړونکی او د خدای د شريعت پلي کوونکي ګڼي او د الله تعالی د نوم او د مذهبي مشرانو تر شا د اطاعت او قربانۍ د راخپلولو لپاره خپلې غوښتنې مطرح کوي.

## شخص ځينه او د ټوليز ماموريت د حس تزريق

د بشري سرچينو د رييسانو د وړانديزونو په نوملړ کې مسلکي او خورا شخصي غوښتنې ذکر شوې دي. هغوی په لومړۍ ورځ، د عادي ادارو د کارکوونکو په څېر کېناستلي او د خپلو کارونو پر وړاندې يې د خنډونو او خپلو غوښتنو نوملړ جوړ کړی دی. د دې ډلې په دستګاه کې د منځنی او ټيټې کچې طالبان ډېرې ځمکنې او شخصي لېوالتياوې او غوښتنې لري. هغوی معاش، کور، مقام او صلاحيت غواړي. احتمالاً د هغوی په منځ کې د اسلامي جمهوريت د دورې مامورين هم حاضر وو او په يوه جدول کې يې خپلې ستونزې او حل لارې سره راټولې کړې دي. د دوی شکايتونه خورا اداري او عادي وو. ويلې يې دي، چې د ګمارلو او ليرې کولو لپاره هېڅ مقررات او اصول نه شته، د ظرفيت لوړولو لپاره کوم پلان نه شته، هغه «مجاهدين» چې د فرمان له مخې او له ازموينې پرته ګمارل شوي له کار سره اشنا نه دي او د هغوی امتيازات هم محدود دي، ځينې طالب قوماندانانو چې د جګړې پر مهال مقام درلود اوس له تشريفاتو پرته پوستونو باندې توظيف شوي او بايد د جګپوړو چارواکو د ساتنې له اداری (رجال برجسته) نه ساتونکي او امتيازات ورکړل شي. په کور د ناستو ښځو بستونه خالي دي او د بشري سرچينو د مسوولانو تر منځ همغږي نه شته.

کله چي ملا هبت الله ته ورغلل، هغه احتمالاً د خپل امارت د چارواکو پر روحيې په پوهېدو سره، د بري او فتحې خبرې پيل کړې، النصر سوره يې لوستې او سملاسي يې د دې په ويلو سره، چې د هغو کسانو کار او ماموريت چې د طالبانو په امارت کې دنده لري، شخصي نه دی، د بشري سرچينو پر مشرانو سرې اوبه توی کړې. تر هغې وروسته يې ټوله ورځ په ايتونو، احاديثو اولاربښوونو سره شخصي او دنياوي ګټې غندلې او د امارت او اخرت د ګټو د ستايلو هڅې يې کړې دي. البته ملا هبت الله پخپله له خپلو مامورينو ډېرې شخصي او سطحي غوښتنې لري او ټوليزې ګټې او له مرګه وروسته باندې فکر کول پراطاعت کوونکي او امر منونکي ډلې باندې د هغوی د بدلېدو وسيله ده. د ملا

هبت الله د غونډې د راپور په دويمه فقره کې راغلي چې په لېږي کولو او ګمارلو کې بايد شخصي ګټې په پام کې ونه نيول شي، بلکې د ملت او نظام ګټې په پام کې ونيول شي. په دريمه فقره کې راغلي، چې پر هغه چا د خدای لعنت دی، چې په خپلو مسووليتونو کې انډيوالي کوي. خو په ۱۹ فقره کې يې په تفصيل سره لارښوونه کړې چې په مقررۍ، اسنادو او لوړو زده کړو پسې مه ګرځئ او څو چې کولای شئ مجاهدين انډېولان استخدام کړئ. هغه د همدې جمع بندۍ لپاره ټولې دعاګانې او روايتونه خپلو مامورينو ته ورکړې دي. په هغې فقره کې په ښکاره امر کوي چې «د نظام ټول تشکيلات بايد له مجاهدينو نه جوړ شي». مجاهدين يې مسلکي نه دي او په دفترونو کې د کار کولو تخنيکي وړتيا نه لري. پر دې پخپله هم پوهېږي، نو ځکه يې ژر زياته کړې ده، چې که تاسو مجاهد په دې دليل نه ګمارئ، چې مسلکي نه دی، نو په غلطه يئ. ځکه چې «مجاهدين او طالبان تر ټولو هوښيار دي... ته ورته فرصت ورکړه او پر کار يې وګوماره، يقيناً هغه به تر بل هر چا خپل مسووليتونه او دندې ښې زده کړې». ملا هبت الله وايي که د بشري سرچينو مشران انډيوالي وکړي او خپل ملګري وګوماري، خدای به پرې لعنت وايي، خو که دوی مسلکي کسان له دفترونو وباسي د ملا هبت الله اطاعت کوونکي او انډيوالان وګوماري، خدای پرې افرين وايي!

د ورځې په پای کې په ټينګار سره امر کوي: «د مجاهدينو د ټاکلو پروسه اسانه کړئ! د ورځې په دويمه نيمايي کې، کله چې د شخص ځينې او د اطاعت د احساس د تزريق بهير پای ته رسېږي، ملا هبت الله د يوه بې پروا سياسي شخص په څير،د بشري سرچينو مشرانو ته په ښکاره او مستقيمه توګه خپلې غوښتنې بيانوي. هغه دا غوښتنې د مستنطق په توګه بيانوي. د بېلګې په توګه، پوښتنه کوي، تاسو ولې ما ته د تصويب لپاره د لېږې کولو او ګمارلو قانون نه رالېږئ؟ ولې مجاهدين په ادارو کې د اسخدام پررمهال سرګردانه او ستړي کوئ؟ ولې په فورمو کې د لېږې خپلوانو او د مجاهدو د ښځو نومونه غواړئ؟ بيا امر کوي چې «په مطلقه توګه غير شرعي کار مه کوئ» او د مجاهدينو استخدام آسانه کړئْ!» شريعت يعني د ملا او طالبانو اسانتيا او امتياز.

هغه له دې ډول ناقانونه او خپلسرو غوښتنو سره سره، د بشري سرچينو رييسانو ته امر کوي چې د «اسلام د دښمنانو» منفي خبرو ته غوږ مه نيسئ او پر هغه څه چې د طالبانو او د هغوی د امارت د نيمګړتياوو په اړه ويل کېږي، سترګې پټې کړي (۱۷فقره، الف برخه) او په ټوله ځمکه کې د شريعت د حاکميت په اړه فکر وکړي، زغره واغوندي او قربانۍ ته چمتو شي! (۱۴فقره)

د ايتونو لوستل، د روايتونو بيانول او د جهاد تبليغ او د نړۍ فتحې ته هڅول او دا هر څه، تر خپل لاس لاندې کسانو د ذهن د کنټرول لپاره سياسي تکتيکونه دي. د ملا هبت الله غوښتنه دا ده چې د امارت مامورين يې د هغه اطاعت کوونکي مبلغان شي او د افغانستان ټول خلک داسې قربانۍ ته چمتو کړي چې هر خوا ته امر وکړي، پر ځای شي. د ملايانو او طالب جنګياليو د استخدام بهير پر اسانه کولو ټينګار يې هم د خپلې ډلې د نفوذ د پراختيا په موخه په بشپړه توګه شخصي او برسېرنه غوښتنه ده، چې په دې توګه په امارت کې خپل سيالان څنډې ته کړي او بې منازعې واکمن شي.

هغه د بشري سر چينو له رييسانو سره اداري غونډه په تبليغاتي او د مغزو مينځلو په مراسمو بدله کړې او د ورځې په لومړۍ نيمايي کې يې له ټولو غوښتې چې په انفرادي ډول له ده سره خپل بيعت تازه کړي.

## هغه زما ده

د روان کال د زمري د مياشتې په پيل کې ملا هيبت الله ټول واليان خپل دفتر ته وروبلل او له هغوی يې د اطاعت او بيعت ژمنه اخيستې وه. دا چې واليان د طالبانو د ځواکمنو ډلو تر منځ وېشل شوي، ويل کېږي چې ملا هبت الله د خپلو

مخالفینو تر کنټرول لاندې سیمو کې د خپل نفوذ د پراخولو لپاره له بېلابېلو تاکتیکونو کار اخلي. یو له دغو تاکتیکونو بیعت اخیستل او له والي تر رییس او قاضي پورې د ریاستونو له چارواکو سره مخامخ ناستې دي.

بل تاکتیک یې د والیانو، وزیرانو او رییسانو شاوخوا ته په ځان پورې د اړوند ملایانو ځای پر ځای کول دي. البته، هبت الله یوازې نه دی او د طالبانو په نظام کې د یوه قشر استازیتوب کوي :ملایان او مولویان چې قوماندانان نه وو او له مدرسو او جوماتونو امارت ته راغلي دي. د سراج الدین حقاني او ملا یعقوب په څېر کسان پوځي واک لري او د ځانمرګو شبکو او جنګیالیو رهبري د دوی په لاس کې ده. ځینې یې د ملا برادر په څېر د قوماندانانو او نفوذي کسانو تر څنګ بهرنۍ اړیکې هم لري. ځینې یې مالي سرچینو لکه قاچاق او جهادي مرستو ته لاس رسی لري. خو د ملایانو یوه ډله چې له دغو امکاناتو او سرچینو نه محرومه ده د ملا هبت الله په شاوخوا کې راټول شوي او د هغه د مقام او نفوذ په زور د هېواد د مالي، نظامي او اداري سرچینو د نیولو لپاره جنګېږي.

ملا هبت الله کله کله په ډاګه حکم کوي چې فلانۍ برخه زما ده! د روان کال د تلې په ۱۸مه یې د ۳۴ ولایتونو د استخباراتو رییسان خپل دفتر ته ور وبلل. په دې غونډه کې قاضی‌القضات او ملا هبت الله ته یو له نېږدې کسانو مولوي عبدالحکیم، د چارو اداري رییس شیخ نورالحق انور او د طالبانو د استخباراتو د عمومي ریاست اپراتیفي مرستیال ملا تاجمیر جواد هم حضور درلود. په هغه راپور کې چې د طالبانو د رییس الوزرا د دفتر پر پاڼه خپور شوی، راغلي چې ملا هبت الله د شریعت د تطبیق، اطاعت او د قربانۍ او د ځان تېرېدنې په اړه له خپلو معمولو خبرو وروسته هغوی ته امر وکړ چې حساب ور کړي.

هغه په دې غونډه کې ان د طالبانو د امارت له چارواکو غوښتي وو، چې «په هر قیمت حکم او فرمان پر ځان تطبیق کړي.» دا ډول غوښتنه بې سارې نه ده او د درد خبره دا ده، چې د طالبانو د حکمونو د پلي کولو په لاره کې ډېرو ځوانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی او ډېرې وژنې او ورانۍ یې کړې دي.

په هغې غونډه کې ملا هبت الله استخبارات د خپل شخصي نفوذ حوزه بللې او د نورو د لاسوهنې په اړه یې خبرداری ورکړی دی. هغه په ښکاره ویلي:

»استخبارات یو داسې ارګان دی چې مستقیماً له مشرتابه سره تړاو لري. هغوی له دې ځایه لارښونه ترلاسه کوي، د نظام بنسټونه ټینګوي، د دښمنانو شوم پلانونه له منځه وړي، او هغه شوم پلانونه کشف او شنډوي چې دښمن یې زموږ پر وړاندې لري.»

دې غونډې هم څلور ساعته دوام کړی و او په تفصیلي راپور کې یې د ملا هبت الله له خبرو پرته بل چا ته اشاره نه ده شوې او داسې ښکاري چې د بشري سرچینو له مشرانو سره د غونډې په څېر هغه د دې غونډې یوازینی ویناوال و او نورو د خپل امیر د پوښتنې په ځواب کې یوازې د ایت لوستو او د بیعت اعلانولو ته د خولې پرانېستو حق درلود.

د هغې نارضایتۍ اصلي لامل چې په دې ورځو کې ډاګیزه شوې، د هغه څه خلاف چې ځینې شنونکي یې وايي، د خلکو پر وړاندې د ملا هبت الله افراطي سیاستونه، لکه له دفترونو د غیر طالبانو لېرې کول، د ښځو پر زده کړو بندیز او د بشري ضد محدودیتونو لګول، نه، بلکې د خپلو داخلي سیالانو څنډې ته کول او په اداري چارو کې د هغه تر بریده زیاته لاسوهنه ده. ایا د ملا هبت الله او د هغه ملایان به په رېښتیا هم وکړای شي چې کندهار د امارت د مشرۍ پر ځای او د طالبانو د رهبرۍ په یوازینۍ مرجع بدل کړي. که داسې وشي نو ایا د امارت د ننه یووالی به وساتلای شي؟ وروستۍ پوښتنه دا چې د خلکو په ورځ تر بلې نارضایتۍ او نړیوالو فشارونو سره به، د واک او سرچینو د وېش پر سر د هغوی د خپل منځي ترینګلتیاوو پایله د طالبانو په تور امارت څه راولي؟